THE LEGAL AID SOCIETY CIVIL

# د 2025 کال په جون میاشت کې د ولسمشر ټرمپ د سفر بندیز

د مسوولیت ردول: دغه مشورتي سند د حقوقي مرستو د انجمن له خوا چمتو شوی دی. دا سند د حقوقي مشوري حیثیت نلري او د کډوالی د چارو د کارپوه د تخصصي سلامشورې پرځای هم کارول کیدی نشي. په دې سند کې وړاندې شوي معلومات د همدې سند د نسخې له نیټې څخه چې لاندې ذکر شوی دی، د اعتبار وړ ګڼل کیږي، او کیدی شي د قضایي دعوی په پایله کې بدلون ومومي.

د 2025 کال د جون په 4 مه نیټه، ولسمشر ټرمپ د *بهرنیو ترهګرو او د ملي امنیت او عامه امنیت اړوندو ګواښونو څخه د متحده ایالاتو د خوندي ساتنې په موخه د بهرنیو اتباعو په ننوتلو د محدودیتونو د وضع کولو* په نوم یوه اعلامیه خپره کړه. دا اعلامیه متحده ایالاتو ته د لاندې (19) هیوادونو د اتباعو ننوتل محدودوي: افغانستان، برما/میانمار، بوروندي، چډ، د کانګو جمهوریت ، کیوبا، استوایي ګینه، ایریتریا، هیتي، ایران، لاوس، لیبیا، سیرا لیون، سومالیا، سودان، توګو، ترکمنستان، وینیزویلا، او یمن. سربیره پردې، مصر تر ارزونې لاندې دی.

- **د انفاذ نیټه**
  - د سفر بندیز د سهار 12:01 بجو د 2025 کال د جون له 9 مې نیټې څخه نافذ دی. کیدی شي چې د سفر د بندیز په وړاندې ځینې قانوني اقدامات ترسره شي. ددې قانوني اقداماتو په ترڅ کې د محکمې احکام کیدی شي وکولی شي ددې بندیز مخه ونیسي.
  - موږ به په دې برخه کې تازه معلومات او لازم وضاحت وړاندې کړو.

دغې بندیز د **کډوالو** (هغه کسان چې د دایمي اوسیدونکو یا د ګرین کارت لرونکو په توګه په قانوني ډول ننوځي) او **د کډوالو پرته کسانو** ترمنځ (چې د لنډې مودې لپاره، لکه د لیدونکو، یا محصلینو په توګه) دې هیواد ته راځي، توپیر ښودلی دی:

| هیواد | د کډوالی ویزې (د دایمي استوګنې، یعنې ګرین کارت لپاره) | د کډوالی پرته ویزې (د هغو کسانو لپاره چې د لیدونکو یا محصلینو په توګه راځي) | یادداشتونه |
|---|---|---|---|
| **افغانستان** | د کورنۍ نږدې غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | د افغانستان د کډوالی ځانګړې ویزه معاف ده |
| **برما/میانمار** | د کورنۍ نږدې غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **بوروندی** | د کورنۍ نږدې غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **چډ** | د کورنۍ نږدې غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **د کانګو جمهوریت** | د کورنۍ نږدې غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |

| کشور | ویزه های مهاجرتی (برای اقامت دایمی، یعنی گرین کارت) | ویزه های غیرمهاجرتی (برای کسانیکه برای مدت محدود بحیث بازدیدکنندگان یا محصلین وارد میشوند) | یادداشت ها |
|---|---|---|---|
| **کیوبا** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **مصر** | (تر ارزوني لاندې دی) | (تر ارزوني لاندې دی) | |
| **استوایي ګینه** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **ایریتریا** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **هیتی** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **ایران** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | ځنډول شوی دی | د قومي او مذهبي اقلیتونو مهاجرتي ویزې چې په ایران کې له ځوروني سره مخ دي، معاف دي. |
| **لاوس** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **لیبیا** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **سیرا لیون** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **سومالیا** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **سودان** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |
| **توګو** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **ترکمنستان** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **ونزویلا** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | B-1, B-2, B-1/B-2, F, M, او J ویزې ځنډول شوې دي | د نورو غیر مهاجرتي ویزو د اعتبار کمول |
| **یمن** | د کورنی نردي غړو* او ځینو ځانګړو کډوالو** څخه پرته، په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | په بشپړه توګه ځنډول شوی دی | |

- لاندې خلک د سفر بندیز څخه **مستثنی** دي:
  - د متحده ایالاتو اتباع؛
  - قانوني دایمي اوسیدونکي (د ګرین کارت لرونکي)؛
  - د مهاجرتي او غیرمهاجرتي ویزو لرونکي چې ویزې یې د سفر د بندیز له نیټې یعنې د سهار 12:01 بجو د 2025 کال د جون له 9 مې څخه مخکې صادر شوې دي؛
  - پناه غوښتونکي او کډوال؛
  - هغه کسان چې د اخراج د منع سند یې ترلاسه کړی دی؛
  - هغه کسان چې د شکنجې او ځوروني په وړاندې د مبارزې د کنوانسیون (CAT) په چوکاټ کې یې ملاتړ کیږي؛
  - اشخاص، او د هغوی د کورنۍ غړي چې د پناه غوښتنې، د کډوالۍ د حالت او د اخراج د منع کیدو یا د شکنجې یا ځوروني په وړاندې د خوندیتوب غوښتنه کوي؛
  - هغه خلک چې دوه ګوني تابعیت لري او د هغه هیواد په پاسپورټ سفر کوي چې د منع شویو هیوادونو په نوملړ کې یې یادونه نه ده شوې؛
  - هغه خلک چې په لاندې غیرمهاجرتي معتبرو ویزو سفر وکوي: A-1, A-2, C-2, C-3, G-1, G-2, G-3, G-4, NATO-1, NATO-2, NATO-3, NATO-4, NATO-5, یا NATO-6؛
  - ورزشکاران یا د سپورتي ټیم غړي لکه ښوونکي یا ټرینران، هغه کسان چې مهم ملاتړیز رول لوبوي، او د هغوی د کورنۍ نږدې غړي چې نړیوال جام، المپیک یا نورو مهمو سپورتي لوبو لپاره چې د بهرنیو چارو وزیر له خوا ځانګړي شوي دي، سفر کوي؛
    - دا روښانه نه ده چې *د ښځو له سپورټ څخه د نارینه ورزشکارانو د لیرې ساتلو* اجرایي فرمان د 4(c) فقرې پر بنسټ به دا موضوع د تراجنسیتي ورزشکارانو په ممنوعیت څرنګه اغیزه کوي؛
  - د کورنۍ د نږدې غړو ویزې (IR-1/CR-1, IR-2/CR-2, IR-5) د هویت او د کورنۍ اړیکې د روښانه او قانع کوونکو شواهدو په وړاندې کولو سره (لکه د DNA معاینه)؛
    - خو د کورنۍ نور غړي د سفر په بندیز کې شاملیږي.
  - *فرزندي ماشومان (IR-3, IR-4, IH-3, IH-4)؛
  - د افغانستان د کډوالۍ ځانګړو ویزو لرونکي؛
  - ** هغه کسان چې د متحده ایالاتو د دولت د کارکوونکو په توګه د مهاجرت ځانګړې ویزې لري؛ او
  - هغه کسان چې د قومي او مذهبي اقلیتونو مهاجرتي ویزې لري او په ایران کې له ځوروني سره مخ دي؛

- **استثناوې** کیدی شي په جلا توګه د هغو کسانو د قضیو لپاره وي چې کولی شي په لاندې مواردو کې متحده ایالاتو ته خپل سفر ثابت کړي:
  - د عدلیې وزارت پورې اړوند جرمي محاکمو کې د مهمو ملي ګټو لپاره د شاهد په توګه حاضریدل ؛ یا
  - په نورو مواردو کې چې د متحده ایالاتو د ملي ګټو لپاره مهم وي.

- **هغه خلک چې دمخه په متحده ایالاتو کې دي**
  - داسې ښکاري چې د سفر دغه بندیز متحده ایالاتو ته یوازې فزیکي ننوتل محدودوي.
  - داسې ښکاري چې هغه خلک چې له پخوا څخه په متحده ایالاتو کې دي د کډوالۍ د حالت (مهاجرتي ویزو، ګرین کارت) د بدلولو او له یو غیرمهاجرتي کټګورۍ څخه بلې ته د بدلون واجد شرایط دي.

- د مهاجرتي ویزو لرونکي چې له پخوا څخه په متحده ایالاتو کې دي (لکه دایمي اوسیدونکي، یا د ګرین کارت لرونکي) چې غواړي له هیواد څخه بهر سفر وکړي، کولی شي بیرته متحده ایالاتو ته ستانه شي.
- د غیرمهاجرتي ویزو لرونکي چې له پخوا څخه په متحده ایالاتو کې دي او له هیواد څخه بهر سفر کوي، متحده ایالاتو ته د بیرته ننوتلو پرمهال به د سفر د بندیز تابع ګڼل کیږي.